QUALITATIVE RESEARCH JOURNAL FOR SOCIAL STUDIES

ISSN Online: 3006-4686, ISSN Print: 3006-4678
Volume No: 02 Issue No: 03 (2025)

# د علاقه سدهوم د ادبي ټولنو او جرګو لنډ تاریخي پس منظر
# A CONCISE HISTORICAL OVERVIEW OF THE LITERARY SOCIETIES AND COUNCILS OF THE SUDHUM REGION

**Bakht Zamin Shah**
MPhil scholar Pashto Department Abdul Wali Khan University, Mardan
**Dr. Shukria Qadir**
Assistant Professor Pashto Department Abdul Wali Khan University, Mardan

## Abstract
*The tradition of Pashto literary organizations and cultural councils is a living symbol of the intellectual and artistic spirit of the Pashtoon nation. These esteemed institutions, deeply rooted in a rich historical legacy, have progressively expanded over time. They have played a significant role not only in the development, promotion, and preservation of the Pashto language and literature but also in nurturing the intellectual taste, aesthetic sensibility, and literary awareness of the people. Through poetic discourse, scholarly gatherings, and collective expression, these literary forums have elevated the cultural consciousness of Pashtoon society.*
*Over time, various literary organizations and councils have been established across Pashtoon regions, among which the area of Sudhum holds a prominent and literature-loving place. Situated in District Mardan of Khyber Pakhtunkhwa, Sudhum is a beautiful, fertile valley surrounded by mountains. It is not only historically and culturally important but also rich in literary heritage. The region has produced many renowned poets, writers, and intellectuals, including Amir Hamzullah Baba, Fazal Akbar Nishtar, Syed Nawab Mama, Rahim Gul Baba, Abdul Ghafar Akhgar, Qiyas Gul Babo, Zarin Khan Zarin, Shams-ur-Rehman Chishti, Usman Din Usman, Salim Khan Salim, Nazir Yousafzai, Tariq Kausar, and many others.*
**Key words:** Pashto Literature, Literary Councils, Pashtoon Culture, Sudhum Mardan, Pashto Language Development, Literary Heritage, Cultural Identity.

جرګه څه ته وائي؟
د جرګې لغوي معنا ده، " غونډه"،"ټولے"، "مجلس"، "اجتماع" وغېره. خو په اصطلاح کښې جرګه د يوې خبرې يا مسئلې د حل کولو په غرض راغونډ شوي خلقو ته وائي.
د فيروزاللغت اُردو ليکوال د جرګې معنې څه په دې ډول بيان کړې ده.

(جرگہ) آدمیوں کا مجمع، گروہ، جماعت، پنچایت، (سرحدی قبائلی علاقے میں) وہ جماعت جو سنگین مقدمات یا اہم معاملات کے بارے میں فیصلہ دیتی ہے"۔(1)

جرګه د يوې علاقې د سپين روبو،مشرانو او علماو هغې غونډې ته هم وئيلے شي چې د قام په مينځ کښې ، د ورونړو په مينځ کښې يا د ټبرو په مينځ کښې د صلحې جوړښت، يوالي او پيوستون کردار ادا کوي.
محمد جاوېد خليل په خپله مقاله کښې د ټولنې يا جرګې تعريف څه داسې کوي:

> "هرکله چې د يو فرد نه زيات خلق راجمع شي او په اجتماعي طور د يو کار کولو تابيا اوکړي هغه ټولي ته مونږ ټولنه يا جرګه وئيلے شو. په نړۍ کښې او بيا خاص کر د پښتنو په دې سيمې ټولنې يا جرګې ته ډېر اهميت حاصل دے هغه پېښې هغه تربګنۍ هغه تکليفونه چې په جنګ جګړو، تودو ټوپکو او عدالتونو فېصله نۀ شي. ټولنه يا جرګه ئې فېصله کوي. "-(2)

ډاکټر بدرالحکيم حيکمزے صېب په کتاب " پښتونولي" کښې د جرګې په حواله ليکي چې:

> "جرګه: د کومې معاملې د فېصلې کولو دپاره تجربه کار او معزز مشران کښېني او په معاملې باندې بحث کوي او د هغې حل لټوي او د هغوي پرېکړه ټولو ته قبوله وي. د علاقائي سطح نه واخله تر ملکي سطحې پورې معاملات د جرګې په ذريعې حل کولے شي"-(3)

ولې که په ادبي پس منظر کښې مونږ د جرګې ټکي ته اوګورو نو دا د هغې ټولنې، ګروپ يا ډلې دپاره پکارولې شي کومه چې د خپلې ژبې او د هغې د ادب د احيا او بقا دپاره تګ لارې څاري او په دغه پس منظر کښې هغوي خپلې هلې ځلې، مشاعرې او غونډې کوي.

QUALITATIVE RESEARCH JOURNAL FOR SOCIAL STUDIES

ISSN Online: 3006-4686, ISSN Print: 3006-4678
Volume No: 02 Issue No: 03 (2025)

په نړۍ کښې او بیا په خصوصي توګه د پښتنو په سیمو کښې د بحث مباحثې له پاره جرګه جوړېږي او دغه جرګه د کلي په شخړو خبرې اترې کوي او د ستونځو حل راوباسي. هم دغسې ادبي جرګې هم جوړېږي چې مقصد ئې ادبي هلو ځلو ته دوام ورکول او ادبي او تنقیدي نشستونه راجوړول او د خپلې ژبې پرمخ تګ وي.
د ټولو نه اول چې کوم کلي یا محله یا ښار کښې ادبي ټولنه جوړېږي نو څو ادبي ملګري راټول شي او په شریکه دغې جرګې له یو نوم وټاکي لکه سدهوم ادبي جرګه، خوشحال بابا ادبي ټولنه وغېره ، بیا ورته دغه ملګري آئین یا منشور جوړ کړي او یوه کابینه ورته جوړه کړي او دا خبره هم فېصله شي چې دا جرګه یا ټولنه به په هفته یا دوه هفتې یا میاشت کښې یو اجلاس کوي چې غرض به ئې ادب ته وده ورکول او د ژبې خدمت او مخ په وړاندې بوتلل وي.
دغه شان که مونږ اوګورو نو نن سبا د الېکټرانک مېډیا زمانه ده او دنیا مخ په ترقۍ روانه ده د الېکټرانک مېډیا له برکته پښتو ژبې هم وده موندلې ده او د وټس اپ د ګڼ شمېر پښتو ادبي جرګې جوړې شوې دي لکه علیخان بابا پښتو ادبي امېل ، پښتو ادبي کاروان ، دستار پښتو ادبي جرګه ، چنار پښتو ادبي تنقیدي جرګه ، پښتونخوا ادبي ستوري ، هلځون پښتو ادبي ځانګه ، پښتو ادب او پښتانهٔ څېړنکاران ، پښتو ادبي انګڼ وغېره.

## د ادبي ټولنو او جرګو ارزښت

هر که چې د ادبي جرګو او ټولنو د تنظیمونو خبره راشي نو سوال پېدا کېږي چې دا ولې جوړېږي ارزښت او اهمیت ئې څه دے؟
ادبي جرګې او ټولنې ډېر ارزښت او اهمیت لري ، دا ټولنې نه یواځې په پښتو کښې بلکې د هرې ژبې د خدمت او پاڅون له پاره ډېر اهم کردار لوبوي ، په دې ټولنو کښې هر قسم ادبي بحثونه کېږي ، د املا ، د عروضو ، د صنعتونو ، د علم بیان ، د علم بدیع نشستونه هم کېږي او تنقیدي نشستونه هم کېږي چې په کښې په غزل ، نظم ، افساني ، ډرامې ، تکل او هر قسم ادبي اصناف تنقید ته وړاندې کېږي. د یوې ژبې په پرمخ تګ او ترقۍ کښې د دې جرګو ډېر اهم کردار دے او دا جرګې د یو پوهنتون او د یوې اکېډمۍ کردار ادا کوي.
ادبي تنظیمونه ولې جوړېږي؟ د دغه ولې په سینه کښې ګڼ رازونه وي، په دې لړ کښې ډاکټر صاحب شاه صابرصېب په خپله مقاله کښې لیکي چې:

> "انساني غرضونه کهٔ شخصي وي او کهٔ اجتماعي خو په یوازې ځان ترسره کول یې ګران دي، د دغه ګرانې اسانولو دپاره غرضي خلق خپل زور او خپله پوهه شریکوي او په ګډه سر داسې عمل پېل کوي چې دغه غرض پرې تر سره کېږي.
> ګو چې سیاسي پارټۍ، فلاحي انجمنونه او د یوې خاصې پېشې سره د تړلو خلقو تنظیم هم په دغه نیت جوړېږي خو بې شکه چې سیاسي پارټۍ د سول سوسائټۍ لازمي برخه وي، ولې رغښت او مقصد دواړه یې سیاسي وي، ټاکلي سیاسي هدفونه لري نوروثقافتي مسئلو ته د خپلو دغه هدفونو د نظره ګوري او په دغه تله یې تلي فلاحي او اصلاحي تنظیمونه د خپلو غوره فلاحي او اصلاحي کارونو پورې محدود وي. پېشه ور تنظیمونه د متعلقه پېشې سره د تړلو خلقو د مفادو دپاره هلې ځلې کوي خو د ادبي تنظیم کړهٔ وړهٔ ثقافتي او مقصدونه لساني او ادبي وي، په یو ادبي تنظیم کښې دمختلفو بلکې د متضادو نظریاتو لرونکي خلق هم د شریکو لساني، ادبي مقصدونو ترلاسه کولو دپاره شریک فعالیتونه لرلے شي".(4)

ځنګه چې مخکښې ذکروشو جرګه یا ادبي جرګه د دې د اهمیت نه په هېڅ جوړ باندې نه سترګې پټولې شي او نه ترې سترګې پټېدے شي، او نه د دې د اهمیت نه چرته انکار شوے دے نه کېږي او نه به ترې وشي. ځکه چې ادبي جرګې د خپلې ټولنې د تعلیمي نصاب نه واخلې تر د ژبې د جوړښت د عمومي وېناو او د لهجو په مېنځ کښې ربط تعلق پېدا کولو دپاره وخت په وخت او موقع په موقع نه صرف غونډې کوي بلکې په دغه غونډو باندې د عمل دپاره هغوي مختلفې هلې ځلې کوي. د حکومتونو سره تماس نیسي او هره غونډه یا هر ادبي تنظیم چې کوم دے هغه دخپل وسه پورې کوشش کوي هغوي حکومت ته لاس رسوي دغه ضرورتونه ورته مخې ته ږدي او په مختلفو طریقو او لارو دغه حکومت په دې خبرو مجبوره وي چې هغوي دې د خپلې ژبې د ټولنې د ژبې د هغوي د نصاب او د هغوي د لهجو توپیر په مېنځ کښې د یووالي پېدا کولو هلې ځلې اوکوشش وشي. دویم د دې د اهمیت اندازه مونږ ته د دې نه لګي چې ډېرې ټولنې داسې دي او ډېرې ادبي جرګې داسې دي چې هغوي د هغه نابیغوو، کلاسکي شاعرانو او نثرنګارانو دشعرونو یا بیا د نثر د نمونو د خوندې کولو دپاره مختلفې هلې ځلې کوي د هغې د راویستلو دپاره، د هغوي د بیا موندلو دپاره او دهغې د تدوین او د تدوین نه پس د هغې د چاپ دپاره لارې ګودرې څاري او چې د مالي ستونزوحل کولو دپاره د مخیرو حضراتو په دروازه باندې دستک هم ورکوي او دغه خپل ضرورتونه چې هغوي په دغه وخت کښې خپل ادبي ضرورت ګڼلې وي دا د مستقبل د قام بچو ته د قوم ځوانانو او پېغلو ته د امانت په توګه رسوي نو هم دغه لوے سببونه دي چې د دې په وجه باندې د ادبي جرګې دبې یا ادبي تنظیم د اهمیت ضرورت او د هغوي د وجود نه انکار نه شي کیدے.

**۳. د ادبي ټولنو او جرګو ذمه واري**

د ادبي ټولنو او جرګو دا ذمه واري ده چې دا جرګې به د خپلې ژبې د ترقۍ له پاره هر قسم کوشش کوي لکه خلق دي ته هڅول چې خپل د دکان بورډونه دې په خپله ژبه کښې وليکي ، وخت په وخت د عام اولس د ژبې طرف ته د مېلان د پاره په بازارونو کښې مارچ کول ، بېنرې لګول او په رسالو او اخبارونو کښې د خپلې ژبې تشهير کول ، وقتاً فوقتاً خصوصي غونډې راجوړول او په دغه غونډو کښې د حکومت چاروا کي او د عوامو نمائېندګان مدعو کول ، د کتابونو د مخ کتنې پروګرامونه راجوړول ، د ملګرو کتابونه چاپ کول، وغېره د دغې جرګو په ذمه وارو کښې راځي۔

علاقه سدهوم کښې د پښتو ادبي ټولنې او جرګې:

سدهوم دَ خېبر پښتونخوا صوبې دَ ضلع مردان نمرخاته اړخ ته دَ کړه مار ، سکرې ، چاښي او دَ ملندرۍ سرملنګ دَ غرونو په لمن کښې يوه سرسبز و شادابه ،ګلورينه ، زړهٔ راښکونکې او زرخېزه علاقه ده. دا علاقه دَ مردان ضلعې په نمرخاته کښې په اتهٔ دېرش ميټره يعني درې ويشت نيم ميله فاصله باندې پرته ده. دا علاقه نه صرف په تاريخي، ثقافتي لخاظ سرسبز و شادابه او زرخېزه علاقه ده بلکې دَ زمانو راسې يو زوړ سياسي ، سماجي ، علمي ، مذهبي ، ادبي او ثقافتي تاريخ هم لري. دې خاوړې په خپله ښېرازه غېږه کښې ډېر ستر ، پياوړې او سپېڅلي سياسي ، سماجي ، مذهبي ، علمي او ادبي هستۍ زېږولي دي. په ادبي توګه دا علاقه ډېره پياوړې او ځانګړې ده. دې علاقې ډېر ستر ليکوالان،اديبان او شاعران پيدا کړي۔

د پښتو ژبې او ادب د پرمختګ په لړ کښې چې کله مونږ د رستم ادبي جرګو يا ټولنو تاريخ ته ګورو نو دا تاريخ ډېر اوږد او زوړ دے۔ ځکه چې دلته ډېرو ټولنو او تنظمونو په مختلفو وختونو کښې د مورنۍ ژبې او ادب د پرمختګ لپاره کار کړے دے۔

د رستم په ادب پروره او ادب خيزه علاقه کښې د ډېرو زمانو راسې د پښتو ادب اوړه په اوړه راروان دے او تر دې دمه دغه لړۍ جاري او ساري ده۔

کله چې مونږ د سدهوم علاقې د ادبي ټولنو او جرګو تاريخ راسپړو نوزما د معلوماتو ترمخه دغه لړۍ د سدهوم پښتو ادبي جرګې نه په کال ۱۹۸۳ء نه شروع کېږي۔ او له دې وروستو په دې علاقه کښې د پښتو ژبې او ادب د پرمختګ او پراختيا لهٔ پاره مختلفې ادبي ټولنې،جرګې جوړېږي۔

د سدهوم ادبي جرګې د جوړېدو نه وړاندې به د سدهوم او ګېرچاپېره سيمو شاعران بالاګرهي شهبازه ګرهي ته تلل چې په بالاګرهيکښې د "يوسفزے پښتوادبي جرګې" په نوم يوه ادبي جرګه وه۔ او دغه جرګې دپښتو ژبې او ادب د پرمختګ او احيا دپاره خپلې هلې ځلې جاري ساتلې چونکه دغه جرګه دسدهوم علاقې يوه نمائنده جرګه نه وه بلکې په مختلف ټپوباندې مشتمله يوه لويه جرګه وه ۔ چې ورستو ترې د مختلفو جرګو لړۍ پېل شوې، په هغو کښې يوه سدهوم پښتو ادبي ټولنه هم په وجود کښې راغله۔

د يوسفزے پښتو ادبي جرګې په حواله ماته ښاغلے طارق کوثر ووئيل چې:

> چې تقريباً د ۱۹۸۰ء شاوخوا په بالاګړهی کښې "يوسفزے پښتوادبي جرګې" وجودرلود چې مفتي عزيزالرحمان د دغه جرګې صدراو صالح احرار سېکټر وو۔ چې بيا وروستو د سدهوم ادبي ملګري د دغه جرګې نه بېل شو۔ په ۱۹۸۳ء کښې په ګورنمنټ هائي سکول رستم کښې د رستم د شاعرانو يوه غونډه وشوه او "سدهوم پښتو ادبي جرګه" جوړه شوه۔
>
> دې سره سره د "يوسفزے پښتو ادبي جرګې" نه په بخشالي کښې د اسرارالله اسرارصېب په کوششونو"ساهو پښتو ادبي ټولنه" جوړه شوه۔ او په اسماعليه (صوابۍ) کښې ګل عمر عمرصيب او د هغوي د ملګرو په زيار "کړه مارپښتوادبي جرګه" په وجود کښې راغله۔ دغه شان په بالاهرګی کښې مستري محمدامين صېب،امين جان انقلابي صېب او نورو ملګرو ځانله يوه جرګه جوړه کړهٔ"۔ (5)

**1-سدهوم پښتو ادبي جرګه:**

د سدهوم پښتو ادبي جرګې په نوم په ۱۹ اکتوبر کال ۱۹۸۳ء کښې د لاندينو غړو په کوشش او زيار سره يوه جرګه جوړه شوه۔

عبدالغفوراخګر، فضل اکبر نشتر، قياس ګل بابو، اميرحمزه بابا،سيدنواب ماما، عثمان الدين عثمان، سيد الابرار هاشمي، سردار محمود سردار وغېره۔

سدهوم ادبي جرګې ډېر ستر ستر اديبان، شاعران او لېکوالان پېدا کړي دي۔ چې په دغو کښې اروابناد خواص خان بابا د پلوډهېرۍ، رحيم ګل بابا د نوې کلي،مولانا حبيب الرحمان د کوترپان چې د تفسيرحبيبي،د بخاري شريف د پښتو ترجمه او نور ګڼ کتابونه ئې ليکلي دي۔

ISSN Online: 3006-4686, ISSN Print: 3006-4678
Volume No: 02 Issue No: 03 (2025)

غلام محمد بابا، میرحمزه بابا د لنډي چې یو ډېر مشهورلوک داستان ئي د"دانش خان او اجمینه" په نوم په منظوم شکل کښي لیکلے دے۔ قیاس ګل بابو، سیدنواب ماما، فقیرمحمدخان د حمزه کوټ، رحیم دین غریب،اسرارصمیم،مظفرشاه غمګین،تاج ولي شیدا، فیض الوکیل فیضي، رضوان شاه رضوان،صالح نثار، نورالاکبرطوفان،حضرت نبي عاصم، شمس الرحمان چشتي، عثمان الدين عثمان او داسې نور ډېرد دې جرګې پیداوار وو۔

د سدهوم ادبي جرګې د جوړښت د کال په حواله ښاغلے نذیریوسفزے لیکي چې:

"د سدهوم سیمې یو ډېر نامتو لیکوال شاعرادیب،افسانه نګار فضل اکبر نشتر صېب په کال ۱۹۷۹ء کښي منډې تړړې شروع کړې او په باقاعده طورئي " سدهوم پښتو ادبي جرګه رستم" جوړه کړه چې مرام ئي دا وۀ چې د سدهوم پښتو ادب وده او ترقي وکړي او تېر هېر شاعران بیا ژوندي کړي۔ په دې خاطر په دغه کال کښې د سدهوم د سیمې ډېر شاعران ادیبان رامخکښې شو او خپلي هلې ځلي ئي شروع کړې په ۱۹ اکتوبر ۱۹۸۳ء کښې د "سدهوم پښتو ادبي جرګې رستم" ټاکنې وشوې چې دا کسان په کښې چوڼ کړې شو۔ سرپرست اعلي : عبدالغفور اخګر،صدر: قیاس ګل بابو،نائب صدر: امیرحمزه بابا ،مشرسېکټر: فضل اکبر نشتر،کشرسېکټر: سردار محمودسردار، پنګه ور: سید نواب ماما"-(6)

محمدجاوېد خلیل هم په خپله مقاله کښې څه داسې لیکلي دي چې:

سدهوم پښتو ادبي جرګه په ۱۹ اکتوبرکال۱۹۸۳ء کښې د لاندینو غړو په کوشش او زیار سره وجود کښې راغله۔ عبدالغفوراخګر،فضل اکبرنشتر، قیاس ګل بابو،امیرحمزه، سیدالابرارهاشمي، سردار،سیدنواب ماما ،عثمان الدین عثمان"(7)

دسدهوم ادبي جرګې لۀ خوا چاپ شوي کتابونه:

د دې جرګې په چاپ کتابونو کښې د جرګې ائین او منشور د " دستور د سدهوم ادبي جرګې"،په نوم، د جرګې تذکره "دسدهوم انګازې" په نوم چاپ شوې دي۔ چې په کښې د جرګې د ملګریو لنډه پېژندګلو او د کلامونه نمونې شامل دي۔ په یو وخت کښې ئې د تېرهېرشاعرانو کلامونه او د هغوي د ژوند حالات د راجمع کولو هڅه کړې وه خو دغه نسخه په کتابي شکل کښې مخې ته نه ده راغلې ۔ د ګل رحمان خیال کتاب "د خیال ملغلرې" په نوم هم چاپ شوے وه، خو دغه کتاب هم اوس نایاب دے۔ د دغې کتابونو نه علاوه "نېغه لار" د سیدالابرارهاشمي، پیرزوئیني د رضوان شاه،"خار او ګلزار" د فضل اکبر نشتر، او د نذېر یوسفزي د شاعرۍ دوه کتابونه یو د"ګلرنګ" او بل د "نغمه ګر" په نوم د سدهوم ادبي جرګې لۀ خواخوارۀ شوي دي۔

## 2. ساهو پښتو ادبي ټولنه ګجرات بخشالے :

د ساهو پښتو ادبي ټولنې نه وړاندې په بخشالي کښي شېردل پښتوادبي ټولنې شتون لرۀ۔ دغه ټولنه د بخشالي د یوعالم فاضل او نوموړي شاعر شېر دل استاذ په نوم جوړه شوې وه۔ په دغه ټولنه کښې به د بخشالي او شاوخوا کلیو شاعران رایوځې کېدل او ادبي بحثونه، اجلاسونه، غونډې او مشاعرې به ئې کولې۔ اګر چې د دغه ټولنې څه تحرېرې معلومات نشته او نه ئې څه کتاب، تذکره او آئین چاپ شوے دے۔

پروفېسر فهم شاه ظفرکاکاخېل د شېردل ادبي ټولنې د تاریخ په حقله ماته ووئیل چې:

"د شېردل ادبي ټولنه بخشالي تنظیم د ۱۹۶۴ء شاوخوا جوړ شوے وۀ۔ هسې خو په دې تنظیم کښې ډېر ملګري وو خو میا عنوان الدین کاکاخېل،امیرجلال باچا، شېردل استاذ د دې ټولنې محرکین وو"۔ (8)

ساهو پښتو ادبي ټولنه" بخشالے په کال ۱۹۸۵ء کښې په بخشالي ( مردان )کښې جوړه شوې ده۔
په شروع کښې د دې جرګې مرکزي دفتر د اسرار الله حجره وه۔

د ساهوپښتو ادبي ټولنې د "آئین او منشور" په مقدمه کښې ښاغلے میافهیم شاه ظفر کاکاخېل لیکي چې:

" هسې خو زمونږ په دې علاقه څو کاله وړاندې "شېردل پښتوادبي ټو لنه" کارکولو، چه کال په کال به د هغې د سیورې لاندې ډرامې،مشاعرې او تنقیدي غونډې کېدلې۔ او دغه رنګ به د دې علاقې خلقو د دې ادبي پروګرامونو نه خوندونه اخستل۔
څه موده پس په زلمي کهول کښې نوې نوې شاعران پیدا شول چې د هغوي په ذهن کښې دا خبره راتله چې په دې علاقه کښې دې یو ځل بیا ادبي سرګرمۍ شروع شي۔ چې اولس ته ترې د تفریح سامان پیداشي۔ دغه کار ته عملي شکل ورکولو دپاره په بخشالي(مردان)کښې یو ادبي تنظیم جوړ شۀ چې نوم ئې "ساهو پښتو ادبي ټولنه" اوټاکلے شوه"۔ (9)

ISSN Online: 3006-4686, ISSN Print: 3006-4678
Volume No: 02 Issue No: 03 (2025)

د دې ټولنې وړومبۍ کابینه چې وټاکلې شوه، د هغې عهدېداران دا کسان وو.
سرپرست اعلي: حاجي شېراکبرخان
صدر : اسرار الله اسرار
نائب صدر: مولانافضل غني حنفي
ستر سېکتر: میاں فهیم شاه ظفر کاکاخېل
نائب سېکتر: نثار محمد شاهین
خازن : زرنوش خان زرنوش
خورونکے سېکتر: سعیدالله اسد
د دفتر سېکتر: تاج ملوک تاج

د ساهو پښتو ادبي ټولنې بخشالي لهٔ خوا چاپ کتابونه:
د ساهو پښتو ادبي ټولنې بخشالي لهٔ خوا په چاپ کتابونه کښې د اسرارالله اسرار"ادراک د ژوند او جان" د عنایت الله عنایت دوهٔ کتابونه "شواخون"، او "سپوږمۍ خبرې کوي"، دفضل وهاب وهاب کتابونه چې په کښې د " د خیال ګلونه"، "د صباستورے"،دې کښې به څهٔ ووایو"،"دا به منې"، "ټینګ شه ورته" کتابونه شامل دي.

### 3. غنچه پښتو ادبي ټولنه

د سدهوم په ادبي ټولنو کښې يوه ټولنه "غنچه پښتوادبي ټولنه" هم وه چې په کال ۱۹۸۹ء کښې د دې ټولنې بنیاد اېښودے شوے وو. د دې ټولنې باني غړے د رستم ستر شاعر رضوان شاه رضوان وهٔ او هم د دوي په کوششونو او هلو ځلو دا ټولنه په وجود کښې راغلې وه.
هم په دغه کال د ټولنې په وړومبي ځل انتخابات وشو او لاندیني عهدېداران د ټولنې د خدمت لهٔ پاره وټاکلے شول:
سرپرست اعلي:سید جان علي باچا
صدر: رضوان شاه رضوان
نائب صدر: اسیرروښان اسیر
مشرسېکتر: زرین خان زرین
کشرسېکتر: طارق کوثر
پرېس سېکتر: بنات ګل وهمي
خزانچي: مراد ګل شاکر
چیرمین: عثمان الدین عثمان
د غنچې پښتو ادبي ټولنې په حواله سید صابرشاه صابر په خپل کتاب کښې لیکي دي چې:
" غنچه پښتو ادبي ټولنه په رستم کښې د رضوان شاه رضوان ه هلوځلو ۱۹۸۶ء کښې جوړه شوې ده. د ټولنې په وړومبي ځل انتخاباتو کښې دا غړي وټاکلے شول:
سرپرست اعلي: جهان علي باچا
صدر: رضوان شاه رضوان،
نائب صدر: اسیرروښان اسیر
مشر سېکتر: زرین خان زرین
کشر سېکتر: طارق کوثر"(10)
غنچې پښتو ادبي ټولنې رستم د ښاغلي اجمل خټک بابا په لاس د يو کتابتون پرانسته هم کړې وهٔ چې نذیریوسفزے د "غنچې ګلونه" نومي کتاب په مقدمه کښې په دغې حواله څه دا رنګ راقم طراز دے چې:
"د ملګريو شاعرانو او د ادب د مئینو په خواهش باندې د ټولنې په دفترکښې د يوې لائبریرۍ تابیا هم اوکړے شوه چې په کثیر رقم باندې په کښې د نړۍ د شاعرانو، ادیبانو او لیکوالو نثري او شعري کتابونه راجمع کړے شول، په ۱۴ جنوري ۱۹۹۰ء د ننګونو شاعر، دغیرتونو شاعر د ذوق او جمال خاوند، او د پښتنو سالار د ژورفکرخاوند، ادیب، نقاد ښاغلي اجمل خټک ئې پرانسته اوکړه"-(11)
د ټولنې چاپ اثار:
دې ټولنې په لږ وخت کښې ډېره ترقي اوکړه او د ترقۍ يوه کارنامه ئې دا هم وه چې د ټولنې د غړو کلامونه ئې راټول کړل او په ۱۹۹۰ء کښې دَ "غنچې ګلونه" کتاب چاپ شو۔ چې په کښې دَ رضوان شاه رضوان ، عثمان الدین عثمان ،

ISSN Online: 3006-4686, ISSN Print: 3006-4678
Volume No: 02  Issue No: 03 (2025)

زرين محمد زرين ، طارق کوثر ، مراد ګل شاکر ، نذير يوسفزي ، احمد علي غوري ، بنات ګل وهمي ، سعيد الرحمان سعيد ، هارون الرشيد باچا او دَ سيد جان علي باچا او سپدالابرار هاشمي پيژندګلو او دَ څه نورو شاعرانو ملګرو دري دري کلامونه چاپ شوي وو ـ خو دغه کتاب اوس ناياب دے۔

**4. سباون پښتو ادبي جرګه:**

چې کله د سدهوم پښتو ادبي جرګې څه شاعران ملګري د دغه جرګې نه خفه شواو ځانله ئي يوه بله جرګه په کال ۲۰۰۶ء کښې د سباون پښتو ادبي جرګې په نوم جوړه کړه۔ چې وروستو دغي جرګې ته د "ګلستان ادب ملګري (ګام) رستم نوم ورکړې شو ـ چې په باني غړو کښې زرين محمد زرين او طارق کوثر شامل وو۔
په شروع کښې د دې جرګې مرکزي دفتر "رفا ايجوکېشن اکېډمي تاشقند رستم" وۀ، او بيا وروستو د احمدعلي غوري په غوښتنه ځوک چې د سباون ادبي جرګې صدر او د سويرا چلډرن اکېډمي مالک هم وۀ۔ " سويرا چلډرن اکېډ مي" د دې جرګې مرکزي دفتر وګرځولے شو۔
د سباون ادبي جرګې د کابيني دپاره چې کوم کسان غوره کړے شوي وو د هغي تفصيل دا دے:

سرپرست اعلي: زرين محمد زرين
صدر:احمد علي غوري
مشرسپکتر:طارق کوثر
کشرسپکتر: زرداش مجروح

**5. رستم ادبي جرګه:**

رستم ادبي جرګه د اکتوبر دمياشتي په ۱۶نېټه کال دوه زره شل (۲۰۲۰) کښې د طارق کوثر او څۀ نورو ملګرو په کوششونو په وجود کښې راغله۔ او هم په دغه کال ئي وړومبي انتخابات وشو چې په کښې دا عهدېداران وټاکلے شو۔

سرپرستِ اعلٰی : اشبرخان اشبر
صدر: طارق کوثر صدر
نائب صدر:جناب شېر ناياب
مشرسپکتر: بخت زمين شاه سيماب
کشرسپکتر: افضل خان افضل
د اطلاعاتوسپکتر: ماقب انکل

د دې جرګې په نورو غړو کښې اسرارشاهين، منظورهمدرد ، جناب شير ناياب ، جامداد اسير،منظور علي طالب،پردېس خان ناياب،خانزاده ساده، ظفرافغان، زرداش خان مجروح،حماد نصرت، شاهد غمګين،ياسين خان اوځيني نور ملګري شامل وو۔

**کتابونه:**

د رستم ادبي جرګې لۀ خوا د طارق کوثر کتاب "زمزمي د پلوشو" د چاپ په ښه سنګار شوے دے۔ د متحرم جامداسير کتاب " چې سروګلونورانه خوب اوړے دے" هم کمپوز شوے دے او ډېر زر به د چاپ ده مرحلې نه تېر شي۔ د جرګې د ملګرو تذکره "د رستم ګلونه" اود رستم ادبي جرګې آئين او منشور هم تياردي او انشاءالله ډېر زر به چاپ ته حواله کړے شي۔
د يادې جرګې مقاصد او اهداف څه په دې ډول دي۔
مقاصد:

- د خپلې مورنې ژبې او ادب خدمت کول ـ
- پښتو ژبه او ادب ژوندے ساتل ـ
- په معاشره ژور نظر ساتل او د عام اولس مسائل د نثري ليک او شعر په ژبه کښې بيانول۔
- دَ نوې شاعرانو روزنه او پالنه کول او هغوې ته ګټه ورې مشورې ورکول۔
- د شاعرانو او ليکوالانو کار او تخليقونه دچاپ په کاليو سنګارول۔
- د ځوان کهول شاعرانو د ادبي روزنې دپاره د ادبي سيمنارونو اهتمام کول۔
- په عام اولس کښې ادبي شعور او ذوق ژوندے کول ـ

**اهداف:**

د جرګې د ملګرو تذکره چاپ کول۔

QUALITATIVE RESEARCH JOURNAL FOR SOCIAL STUDIES

ISSN Online: 3006-4686, ISSN Print: 3006-4678
Volume No: 02 Issue No: 03 (2025)

د اروابناد شاعرانوپه یاد کښې غونډې راجوړول.
ژوندي پښتانهٔ شاعران او لیکوالان په ادبي ایوارډونو سره یادول.
د زړو شاعرانو ناچاپه اثار راغونډول او هغې ته کتابي شکل ورکول.
د ټولني د ملګرو کم از کم یو یو کتاب چاپ کول.
په رستم کښي د ادبي سیمنارونواو د کانفرنسونو تابیا کول.
د رستم ادبي جرګي ملګریو دا خواهش هم لرې چې کله هم د دوي مالي حالت ښهٔ شي نو په باقاعده توګه به یوه میاشتنی مجله هم اوباسي چې په دې کښي به نه صرف د پښتو ژبې او ادب خدمت کولي شي بلکي د دې سیمې چې څومره شاعران او ادیبان دي، د هغوي پیژندګلو به هم د نوي کهول سره کوي.
دا وخت په رستم ادبي جرګه کښي تر دېرشو پورې غړي شامل دي. د حکومت مرسته ورته نه ده حاصله د جرګي خرچونه په خپلو جمع کړے شوو چندو پوره کوي.
څنګه چې مخکښې ذکر شو چې په علاقه سدهوم کښې د ادبي ټولنو او جرګو لړۍ شاوخوا د ۱۹۸۳ء کال څخه پیل شوې ده، او تر ۲۰۲۰ء کال پورې یو شمېر ادبي تنظیمونه او جرګې جوړې شوې دي. چې د پښتو ژبې ،ادب د ترویج او پرمختیا لهٔ پاره ئې ګڼ اړخیزه کار او زیار ترسره کړے دے نن کهٔ په عمومي معاشرتي او سماجي فضا کښې د پښتو د شعر و ادب انګازې دي او هر چرته د پښتو شعر و ادب تذکرې او غونډې کیږی نو یقینا چې د دې تر شا د ټولو مهم کردار د پښتو ادبي ټولنو، تنظیمونو او جرګو دے هم دغه ټولنو پښتو ادب ژوندے ساتلے دے او د پرمختګ په لاره ئې ورسم کړے دے.

**حوالې:**


1. مولوی فیروزالدین(مرحوم)،فیروزاللغات اُردو جامع، مطبوعہ، فیروز سنز پرائیوٹ لمیٹڈ لاہور، باہتمام ظہیر سلام پرنٹر و پبلشر، 2010ء
2. خلیل ،محمد جاوېد ، ایم فل مقاله، په صوبه سرحد کښې د مختلفو پښتوادبي ټولنواو جرګو تنظیمونه،خیروونکي اداره پښتو اکېډمی پېښور، دچاپ ځاے ملت پرنټرز لاهور د چاپ کال ۱۹۹۴ء
3. حیکمزے ،بدرالحکیم ، ډاکټر، پښتونولي،ژباړن سمسور منګل،
4. صابر،صاحب شاه، ډاکټر ،د پښتوشاعری په وده کښې دتنقید کردار،د چاپ ځاے عامرپرنټ اینډپبلشرز پېښور،د چاپ کال جنوري ۲۰۱۵ء
5. کوثر،طارق، مرکه(مخ په مخ)، ځاے هېراوند رستم، وخت ۴ بجې مازیګر، نېټه ۱۵ دسمبر۲۰۲۴ء
6. یوسفزے،نذیر،دستور، سدهوم پښتو ادبي جرګه، دچاپ کال ۲۰۱۵ء
7. خلیل ،محمد جاوېد ، ایم فل مقاله، په صوبه سرحد کښې د مختلفو پښتوادبي ټولنواو جرګو تنظیمونه،خیروونکي اداره پښتو اکېډمی پېښور، دچاپ ځاے ملت پرنټرز لاهور د چاپ کال ۱۹۹۴ء
8. کاکاخیل، فهیم شاه ظفر، پروفېسر، مرکه(مخ په مخ) ،ځاے بخشالے،وخت ۴ بجې نېټه۲ مارچ ۲۰۲۵ء
9. کاکاخېل ،فهم شاه ظفر ،پروفېسر، مقدمه، آئین او منشور،ساهوپښتوادبي ټولنه بخشالے،د چاپ کال ۱۹۸۵ء
10. صابر،سیدصابرشاه،د رناګانومحفلونه، خیروونکي یونیورسټي بک اېجنسي پېښور،ماسټرپرنټرزمحله جنګي پېښور، د چاپ کال ۱۹۹۴ء
11. یوسفزے، نذیر،د غنچې ګلونه، مقدمه، د چاپ ځاے نیوآمینه پرېس مردان، د چاپ کال ۱۹۹۰ء